طلوع افغان

نبوي مرغلري:

رسول الله (صلى الله عليه وسلم) فرمايلي دي:
ژباړه: کله چي لمانځه ته ولاړ سی، داسي لمونځ کوی، لکه همدا چي مووروستی لمونځ وي.
«رواه احمد»

پښې ويناوي:

مولانا جلال الدين "بلخي":
خپل هغه نه دي چي داوښکو په توېدو در ته راسي، خپل او خواخوږي هغه دي چي ستا سترګي داوښکو ډکېدو ته پرې نه ږدي.

مؤسس: مولوي صالح محمد "هوتک"

دامتياز خښتن: د کندهار اطلاعات او فرهنګ رياست

په اوونۍ کي دوه واره چاپيږي

د تأسيس کال: ۱۳۰۰ لمريز، دوشنبه ۳/ذوالقعدة الحرم/۱۴۴۷ هـ ق، ۳۱/وری/ ۱۴۰۵ ل کال - ګڼه (۶)

Monday-20-April-2026 Issue: 6

د مطالبو سرليکونه

- خلور امامان؛ قدم په قدم! (ژباړه: مولوي محمد اکبر)
- د اسلامي نظام په وړاندي... (حسان مجاهد)
- اې د نن ورځي ځوانه ځان... (مرتضی "ابراهيمي")
- نړۍ نه؛ ځانه بدل کړه! (محمد نبي "سلطاني")
- له اصيلو انسانانو سره... (مولوي نور الحق "مظهري")
- هغه خبري چي د حديثونو... (ن- "شاکر")
- په کندهار پوهنتون کي لويه ولسي... (احمد "خاطري")
- انډيوالي څنګه وکړو؟ (نعمت الله "شاکر")

د حيرتان بندر له لاري منځنۍ آسيا ته د ميليونونو ډالرو په ارزښت صادرات سوي دي

د بلخ ولايت د سوداګرۍ او پانګوني خوني مسئولينو ويلي، د تېر يوه کال په ترڅ کي، د حيرتان بندر له لاري، د کورنيو توليداتو صادرات ۱۸۱ ميليونه امريکايي ډالرو ته رسېدلي دي.

د يادي خوني مرستيال هارون الرشيد قاضي باختر خبري آژانس ته ويلي، په دغو صادراتو کي کرهنيز محصولات، خوراکي توکي او يو شمېر صنعتي توليدات لکه: د بخار ديګ او نور توکي شامل دي.

د هغه په خبره، دا صادرات تر ډېره د سيمي هيوادونو، په ځانګړي ډول د منځنۍ آسيا بازارونو ته تر سره سوي دي.

په ورته وخت کي د بلخ يو شمېر سوداګر د کورنيو صادراتو د زياتوالي هرکلي کړی او ټينګار يې کاوه، چي د صادراتو او وارداتو په برخه کي دي لا ډېري اسانتياوي برابري سي.

دوی زياتوي، د سوداګريزو خنډونو کمول او د اسانتياوو رامنځته کول، کولای سي، د صادراتو بهير لا چټک او پراخ کړي.

له بلي خوا د بلخ د صنعت او سوداګرۍ رياست مسئولينو ډاډ ورکړی، چي د کورنيو توليدوونکو د ملاتړ او د صادراتو د پراختيا له پاره يې ځانګړي پروګرامونه تر کار لاندي نيولي دي.

د اطلاعاتو او فرهنګ وزير د تاپي پروژې له چارو ليدنه کړې

د اطلاعاتو او فرهنګ وزير شيخ شېر احمد حقاني په هرات ولايت کي د تاپي پروژې د چارو څخه ليدنه کړې او دا يې د سيمي له پاره يوه مهمه اقتصادي او بنسټيزه پروژه بللې ده.

د ليدني پر مهال د تاپي پروژې مسئولينو د يادي پروژې د پلي کېدو د پړاوونو د فزيکي پرمختګ د کچي او د راتلونکو پلانونو په اړه معلومات وړاندي کړل او ويې ويل، دغه پروژه د اړوندو ادارو تر همږغۍ لاندي د ټاکل سوي پلان له مخي پر مخ روانه ده.

د اطلاعاتو او فرهنګ وزير د دې پروژې د پرمختګ څخه خوښي څرګنده کړې او ويلي يې دي، تاپي يوه مهمه اقتصادي او زېربنايي پروژه ده، چي کولای سي، د سيمه ييزو همکاريو په پياوړتيا، دانرژۍ دانتقال په پراختيا ۴مخ

د مخکنۍ خبرداري سيستم جوړ او ګټي اخيستني ته وسپارل سو

کندهار ولايت په دوو ولسواليو کي د مخکني خبرداري سيستم د جوړولو چاري بشپړي او ګټي اخيستني ته وسپارل سو.

د کندهار ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست د KRO مؤسسې په مالي ملاتړ، د کندهار ولايت د سپين بولدک ولسوالۍ د کنډک مانده او د کښته شاولي کوټ ولسوالۍ د سوزنيانو او چوغک مانده په سيمو کي درې د مخکني خبرداري سيستمونه نصب او رسماً ګټي اخيستني ته ۴مخ

د افغاني غاليو د صادراتو ارزښت ۱۸ ميليونه ډالرو ته رسېدلی

د هيواد د غاليو اتحادېې رياست مسئولينو په تېر ۱۴۰۴ لمريز کال کي د ۱۸ ميليونو ډالرو په ارزښت، ۳۷ هيوادونو ته د شاوخوا ۶ زره غاليو او ۴ زره متره ګليم د صادراتو خبر ورکړی دی.

د هيواد د غاليو اتحادېې رئيس عبدالله رحمان قل باختر خبري آژانس ته ويلي، دغه غالۍ زياتي امريکا، ترکيې او اروپايي هيوادونو ته صادري سوي دي.

د هغه په قول، اوس د غاليو پروسس په کور دننه کي تر سره کېږي او که دا بهير لا پراخ سي، شاوخوا ۵۰ ۴مخ

يو ذخيروي ګدام جوړ او ګټي اخيستني ته وسپارل سو

د روزګان ولايت مرکز ترينکوټ ښار، څلورمه ناحيه کي د وچي مېوې منډۍ دننه، يو ستر ذخيروي ګدام، چي د څه باندي اتو ميليونو افغانيو په ارزښت جوړ سوی، د ګټي اخيستني له پاره وسپارل سو.

دغه ګدام د ملګرو ملتونو د پراختيايي پروګرام (UNDP) په مالي ملاتړ او د ترينکوټ ښاروالۍ رياست په تخنيکي همکارۍ جوړ سوی دی.

د ياد ګدام د جوړېدو موخه د وچو مېوو ساتنه، د سوداګرو ملاتړ او د ښاري اقتصادي ودي پياوړتيا ۴مخ

څه باندي ۱۱۰۰ بېوزلو کورنيو سره نغدي مرسته وسوه

د باختر خبري آژانس د راپور له مخي، د نيمروز ولايت په دوو ولسواليو کي د معيشتي پروګرام له مخي، څه باندي ۱۱۰۰ کورنيو ته نغدي مرسته وويشل سوه.

د ياد ولايت د کلو، بيارغوني او پراختيا سرپرست او د پروژو آمر مولوي عبدالصبور "سينان" ويلي، د همدې ولايت په خاشرود او چخانسور ولسواليو کي د ۱۱۵۵ بېوزلو او بې سرپرسته کورنيو ته د نړۍوال خوراکي پروګرام او د بشري مراقبت مرستو سازمان له خوا د دې اداري سره په همږغۍ کي ۴مخ

د طلوع افغان خبري (سرليکنه)

د سوداګرۍ په وده کي؛ د اوسپني پټلۍ اغېزناک رول!

سوداګريز انتقالات له څو لارو تر سره کېدای سي، پر ځينو يې ډېر مصرف راځي، اما ځيني يې بېخي له مصرفه خلاصي وي، د هوا له لاري هم انتقالات تر سره کېږي، خو دا لاره نسبتاً قيمتي تمامېږي، ځکه د طيارې مصارف زيات دي، د دې تر څنګ ځيني انتقالات د موټرونو او لاريو په مټ تر سره کېږي، دا لاره د طيارو په پرتله، ارزانه ده، خو بيا هم قيمتي تمامېږي، تر دې را وروسته دوې نوري لاري دي، چي يوه يې د اوسپني پټلۍ ده او بله يې د سمندر لاري انتقالات دي.

د رېل ګاډي په مټ انتقالات د طيارو او د موټرونو په پرتله، ډېر ارزانه تمامېږي، همدا لامل دی چي د نړۍ په پرمختللو هيوادونو کي د رېل پټلۍ له لاري تجارت ته ډېره پاملرنه کېږي او دې برخي ته په پوره توګه وده ورکړل سوې ده.

په افغانستان کي د اسلامي امارت په راتګ سره، د اوسپني پټلۍ له لاري تجارت ته توجه خورا زياته سوه، د همدې رېل پټليو په برکت، د منځنۍ آسيا له هيوادونو سره تجارت ډېر زيات سوی دی.

د دې سره په څنګ کي بله خبره دا ده چي له ازبکستان سره د اوسپني پټلۍ په برکت، د توکو د لېږد لګښتونه له ۲۰ تر ۲۵ سلني را کم سوي دي، دا اسانتيا د دواړو لورو سوداګر تشويقوي چي لا زياته پانګونه وکړي او د دغه عظيم فرصت څخه استفاده وکړي.

اميد سته چي په افغانستان کي د ننه، ولايتونه هم د رېل پټلۍ له لاري ونښلول سي، ترڅو تجارتي انتقالاتو کي اسانتياوي رامنځته سي.

يوه مهمه يادونه چي بايد وسي هغه دا ده چي هرات ولايت له ايران سره د اوسپني پټلۍ له لاري نښلول سوی دی، همدا شان دې هڅه وسي، چي کندهار ولايت هم له ايران سره د اوسپني پټلۍ له لاري ونښلول سي، ترڅو د دې سيمي اقتصاد او تجارتي راکړه ورکړه کي هم اسانتياوي رامنځته سي.

اداره

بېلابېل موضوعات

څلور امامان؛ قدم په قدم!

ليکوال: عبدالله فاراني (اشتياق احمد رح) ژباړه: مولوي محمد اکبر ۳۷ برخه

هيثم بن جبيل ويلي:
زما په مخکي د امام صاحب څخه اته څلوېښت مسئلې وپوښتل سوې، د هغوی له جملې یې د درو دېرش مسئلو په جواب کي ورته وويل زه نه پوهېږم.
خالد بن فروش ويلي:
ما د امام صاحب څخه څلوېښت مسئلې وپوښتلې، نوموړي په هغو کي يوازي د پنځو جواب راکړی.
ابن وهب ويلي:
امام مالک په اکثرو مسئلو کي ويل، زه نه يم په خبر / زه نه پوهېږم.
امام صاحب خپله ويلي:
زه ډېر وخت د يوې مسئلې د تحقيق له پاره ټوله شپه ويښ يم او په يوه مسئله کي خو د لسو کالو څخه فکر کوم، مگر تر اوسه پوري مې صحيح پرېکړه و نه سوای کړای.
يو سړي پوښتنه وکړه:
د دې څه معنی ده چي الله جل جلاله پر عرش مستوی دی؟
امام صاحب په جواب کي وويل: استوی معلومه ده، کيفيت يې نامعلوم دی، په دې اړه پوښتنه کول، بدعت دی او ايمان پرې درلودل فرض دي.
يو سړی چي د يوې غلطي ډلې څخه ورته راغلی او وېې ويل:
اې ابو عبدالله! زه غواړم چي يو څو خبري تاسو ته وکړم... تاسو لومړی زما خبري واورئ، بيا زه ستاسو سره بحث کوم.
ده انکار وکړ، يوازي دومره يې وويل: عمر بن عبدالعزيز رحمه الله ويلي: څوک چي خپل دين د جنګ او جګړې نښه وګرځوي، هغه به تل دين بدلوي.
يو چا د امام صاحب څخه د باطل علم په اړه پوښتنه وکړه؛ امام صاحب په غوسه سو او وېې ويل: په باطل هم هغه څوک پوهېږي، چي په ظاهري علم پوهېږي، دا علم په زړه کي د نور د پيدا کېدلو سره پيدا کېږي، تاسو خالص دين غوره کړئ، د هغه په خبرو پسي مه ځئ، چي په کوم څه خبر ياست، هغه راونيسئ او چي په کوم څه خبر نه ياست، هغه پرېږدئ!
که به د غلطي عقيدې سړی ورته راغی، نو دا به يې وويل او ځني ولاړ به سو. زما سره خو د خپل رب جل جلاله لوري دليل سته او تاسو په شک او شبهه کي اخته ياست... تاسو د خپل ځان په څېر، خلکو سره بحث او مباحثه وکړی.
امام صاحب به ډېر کله ويل: څوک چي غواړي، زړه يې روښانه وي، د مرګ د سختۍ څخه نجات ومومي او د قيامت د سختيو څخه محفوظ وي، نو د هغه باطني عمل بايد د ظاهري عمل په څېر وي.
مصعب بن عبدالله ويلي: کله چي به د امام صاحب په مخکي د نبي عليه السلام يادونه راتله، نو د مخ رنګ به يې بدلېدی، سر يې کښته کېدی او ويل به يې: ما چي څه ليدلي دي، که تاسو هغه ووينی، نو تعجب به و نه کړی.
محمد بن منکدر ډېر ستر قاري و، موږ چي به د هغه څخه د يو حديث پوښتنه کوله، نو دی به په ژړا سو، يو څه وخت زه ورغلی او راغلی يم... ما هغه تل د درو حالتونو څخه په يو حالت کي ليدلی دی، په لمانځه به بوخت و، روژه به يې وه او يا به په تلاوت بوخت و.... چي زه به ورغلم، نو تکيه به مي ورته کښېښووله.
کله چي په زړه کي سختي موم، نو د هغه حالات را په يادوم، چي په دې توګه به تر څو ورځو پوري زما نفس نېک اثرات محسوسول.
د امام صاحب عادت و، چي د هري مياشتي لومړۍ شپه يې په عبادت تېرول، چي ليدونکي به فکر کاوه، چي نوموړی د مياشتي استقبال په عبادت سره کوي.
د امام صاحب لور فاطمي ويلي: امام صاحب هره شپه خپله وظيفه (نوافل) پوره کول او د جمعې شپه يې ټوله عبادت کاوه.
امام صاحب په نفلونو کي اوږده رکوع او سجدې کولې، د ډُرو تر سزا وروسته، خلکو غوښتنه وکړه چي تاسو لنډ لمونځ وکړئ! ده په جواب کي وويل: بنده ته په کار ده، چي د الله جل جلاله له پاره کوم کار کوي، په ښه توګه يې وکړي.
نوموړي به خپل د سر دستمال تندي ته راکښته کاوه، چا پوښتنه وکړه: تاسو ولي داسي کوی؟
ده په جواب کي وويل: زه دا د دې له پاره کوم چي پر تندي د سجدې نښه پاته نه سي او خلک دا و نه وايي چي زه د شپې تهجد کوم.
نوموړي به نفلي عبادتونه په يوازيتوب کي کول، تر څو څوک دی و نه ويني او د بزرګۍ شهرت يې نه وي.
په نوموړي کي هغه ټولي ښېګڼي موجودي وې، کوم چي په صحابه وو او تابعينو کي موجودي وې، په مدينه منوره کي هيڅکله پر سپرلۍ نه و سپور سوی او ويل به يې: په کومه ځمکه کي چي رسول الله صلی الله عليه وسلم آرام کوی، پر کومه ځمکه چي رسول الله صلی الله عليه وسلم ګرځېدلی و، دلته سواري کول، د ادب خلاف دی.
پای

د اسلامي نظام پر وړاندي زهرجن تبليغات

حسان مجاهد

دريمه برخه

ټولنيزي رسنۍ هغه پراخ ډګر دی چي د بېلابېلو نظريو او افکارو خلک په کښي حضور لري، نېکان او فاسقان، د اسلام ملاتړي او مخالفين، پوهان او ناپوهان. په داسي فضا کي طبيعي ده چي بحث، نيوکي او اختلافونه موجود وي.
کله چي د اسلامي نظام مخالف کسان په رسنيو کي نيوکي يا تورونه مطرح کوي، معمولاً د نظام پلويان هڅه کوي چي جواب ورکړي او خپل دريځ روښانه کړي، خو ځيني مخالفي کړۍ د سالم بحث پر ځای، بله لاره غوره کوي، هغوی هڅه کوي چي د رسنيو فضا له فحشا او اخلاقي ګډوډۍ څخه ډکه کړي.
دغه هڅي معمولاً په لاندي ډول تر سره کېږي:
– د ښځو او نجونو ناسم او بربنډ انځورونه او ويډيوګاني خپرول.
– فاحشي او بې حيا خبري او کيسې خپرول.
– د ډمتوب او موسيقۍ رغيز کليپونه خپرول.
هدف دا وي کوم کسان چي له دې ډول محتوا سره فکري او ديني تضاد لري، هغوی له ټولنيزو رسنيو يوه اړخ ته سي. بيا کله چي سالم، متدين او فکري خلک شاته سي، نو ميدان يوازي هغو کسانو ته پاته سي چي يا مخالف دي او يا بې خبره دي.
په داسي حالت کي نو هر ډول تور، شايعه او منفي تبليغ په اسانۍ سره د خلکو په ذهنونو کي ځای نيسي.
د يادي دسيسې د شنډولو له پاره اړينه ده، چي اسلامپال، علمي او فکري مبارزين؛ په ټولنيزو رسنيو کي هم فعال حضور ولري او هم غوره اخلاق او عفت په پام کي و نيسي.
همدا راز بايد د ناوړه نشراتو په بدل کي ديني، اخلاقي او د سالم فکر جوړولو خپروني څو برابره زياتي سي، تر څو د حق پيغام روښانه او پر باطل د خلکو باور کمزوری سي. نور بيا...

اې د نن ورځې ځوانه ځان وپېژنه!

مرتضی ابراهيمي

اې د نن ورځې ځوانه!
تاسو يوازي د عمر له مخي ځوان نه ئې، بلکي تاسو د يو امت هيله ئې! ستاسو فکر که روښانه سي، ټولنه به روښانه سي. تاسو بايد پوه سی چي وخت ډېر قيمتي دی، هره شېبه چي تېره سي، بېرته نه راګرځي.
ځوانه!
د نورو په تقليد مه ځه، خپل هدف وپېژنه!
د نااميدۍ تيارو ته مه تسليمېږه، ځکه ستا په زړه کي د بدلون رڼا پرته ده!
که نن ځان جوړ کړې، سبا به تاريخ تاسو ياد کړي.
ته کولای سې:
– په اخلاقو کي لوړ و اوسې!
– په علم کي مخکي ولاړ سې!
په عمل کي رښتينی و اوسې!
په ياد ولره!
قوي ځوان هغه نه دی چي يوازي زور لري، بلکي هغه دی چي پاک فکر، قوي ايمان او سم هدف ولري.
پاڅه! فکر دې روښانه کړه او د خپل ژوند مشري په خپله لاس کي واخله!

نړۍ نه؛ ځان بدل کړه!

محمد نبي سلطاني

انسان تل د بدلون په لټه کي دی. هر څوک غواړي چي نړۍ بدله سي، ستونزي له منځه ولاړې سي او ژوند اسانه سي، خو يوه مهمه پوښتنه داده چي آيا موږ کله هم فکر کړی چي بدلون بايد له کومه ځايه پيل سي؟
حقيقت دادی چي تر ټولو لوی بدلون، د انسان له خپل ځانه پيلېږي، نه د نړۍ څخه.
ډېری خلک د ژوند له ستونزو شکايت کوي، خو ډېر کم کسان ځان ته ګوري. هغوی غواړي شرايط بدل سي، خو خپل فکر، چلند او دريځ بدلولو ته چمتو نه وي. حال دا چي نړۍ هغه ډول ښکاري لکه څنګه چي موږ ورته ګورو. زموږ سترګي يو شان دي، خو زموږ ليد توپير لري او همدا توپير زموږ د ژوند کيفيت ټاکي.
د دې حقيقت د درک له پاره د ژوند ساده بېلګي کافي دي. کله چي انسان له لوی امتحان سره مخامخ سي، د هغه عکس العمل د هغه د شخصيت او فکر هنداره وي. دوه کسان يو شان درد تجربه کوي، خو د دوی برداشت او تفسير بېخي توپير لري. يو کس د تقدير په وړاندي ناخوښي ښکاره کوي او ځان په غوسه، مايوسۍ او ناهيلۍ کي ډوبوي. بل کس که څه هم غمجن وي، خو صبر کوي، حقيقت مني او ځان ته متوجه کېږي. دغه دواړه کسان يو حالت تجربه کوي، خو دوی د نړۍ څخه بېخي جلا کېږي.
همدا راز د ژوند نوري ستونزي هم همداسي دي. ستونزه اکثره په خپله نړۍ کي نه وي، بلکي زموږ په چلند او عملونو کي وي. که يو څوک له هري ستونزي څخه يوازي شکايت وکړي، نو ژوند به يې همېشه دروند او سترۍ وي، خو که بل څوک د حل لاره ولټوي، نو هماغه ستونزه به د پرمختګ وسيله وګرځي.
انسان کله نا کله له طبيعت او شرايطو سره جګړه کوي، حال دا چي دا جګړه بې ګټې ده. نړۍ خپل اصول لري، ستونزي به وي، سرګردانۍ به وي، ژوند به له غمونو ډک وي. ګرانه! کسان به تل نه وي، ژوند به تل اسان نه وي، چي دا حقيقتونه د انسان له ارادې بهر دي، خو هغه څه چي زموږ په واک کي دي، زموږ خپل فکر، غبرګون او چلند دی.
هوښيار انسان هغه دی، چي د نړۍ د بدلولو پر ځای، خپل ځان ته پام وکړي. که ستونزه په ده کي وي، هغه اصلاح کړي. که کمزوري لري، هغه پياوړې کړي. که فکر يې منفي وي، هغه مثبت کړي او...؛ ځکه چي کله انسان خپل ځان بدل کړي، نړۍ ورته بدله ښکاري، که په حقيقت کي هماغه وي.
هغه څوک چي تل غواړي نړۍ د ده له غوښتنو سره سمه سي، په دوامداره نارضايتۍ کي ژوند کوي، خو هغه څوک چي ځان د نړۍ له حقيقتونو سره عياروي، آرامي او ثبات مومي. بريا، اسانتيا او خوښي هغه چا ته رسېږي چي د ژوند له سختيو سره د مقابلې توان پيدا کړي، نه هغه ته چي له سختيو تېښته کوي.
په پايله کي بايد ووايو چي د بدلون تر ټولو مؤثره او رښتينې لاره داده چي انسان خپل فکر، نظر او چلند بدل کړي. نړۍ به همداسي روانه وي، خو که موږ بدل سو، زموږ نړۍ به بدله سي.

له اصيلو انسانانو سره ملګرتيا وکړئ!

مولوي نورالحق "مظهري"

اصيل انسان فکرمند او دروند وي، د فيصلې په وخت کي تحقيق کوي، په هيڅ برخه کي بخالت نه کوي، په هيڅ شي کي له هيچا سره حسد نه کوي، دروغ نه وايي، د هيچا خدمت ته په سپکه نه ګوري، تر خپله توانه ځان د هر ډول خيانت څخه ساتي، تکبر او غرور نه کوي، که څه ورکړې يا په يوه برخه کي مرسته ور سره وکړې، شکر يې باسي، که ستا څخه کوم عيب ووينې، پټوي يې او که مينه در سره وکړي، نو په اخلاص يې کوي، آن په دښمنۍ او مخالفت کي هم خپل اصالت ښکاره کوي.
کوښښ وکړئ چي له اصيلو انسانانو سره ملګرتيا وکړئ.

هغه خبري چي د حديثونو په نامه نشر سوي دي

ن- "شاکر"

په اسلامي تاريخ کي مختلفو ډلو په بېلابېلو وختونو کي رسول الله صلی الله عليه وسلم ته منسوب اقوال جوړ کړي دي، نورو په شعوري يا غير شعوري ډول هغه خبري د حديثونو په نامه نشر کړي دي.
دا اوس په مسلمانانو او بالخصوص پښتنو کي داسي خبري نشر سوي، چي په اسلام کي هيڅ اصل نه لري، خو خلک يې د اسلام ارشادات ګڼي.
ښه داده چي د هري مشکوکي موضوع اړوند، د خپلي سيمي او محل له هغو علماوو پوښتنه وکړل سي، چي هغه عالم په هغه اړخ کي تحقيقي مطالعه ولري.
هر کال په رجب، شعبان او روژه کي په رسول الله صلی الله وسلم پسي دروغ ويل کېږي، ځيني خلک يې له دين سره د محبت په غرض مني او نشروي. څرګند مثال يې د تراويحو د فضيلت هغه له ځانه جوړ سوی حديث دی، چي د هري شپې فضيلت يې جلا په کښي ذکر کوي.
روژه د فضيلتونو څخه ډکه مياشت ده؛ کوښښ به وکړو، چي يوه دقيقه يې هم را څخه ضايع او بې له استفادې تېره نه سي، خو جوړ سوي دروغ منل او نشرول، ګناه لري!

په کندهار پوهنتون کې لويه ولسي غونډه

احمد "خاطري"

کندهار پوهنتون کې د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د ۱۷ ګڼه فرمان د عامه پوهاوي او تطبیق په اړه د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت په نوښت لويه ولسي غونډه!

کندهار پوهنتون د روان ۱۴۰۵ ل کال د حمل میاشتې ۲۲ مه نېټه، د شنبې ورځ د ولسي غونډې کوربه و. دا غونډه چې د ستر زعیم حفظه الله په شفاهي هدايت ترتیب سوې وه، د کابل څخه د راغلو لوړ رتبه مسئولینو، د کندهار ولايت والي حاجي ملا شېرين اخند په ګډون، د پوهنتون رئیس صاحبانو او مسئولینو ګډون په کښې درلودی.

دې غونډې ته امیرالمؤمنین حفظه الله هم خپل پیغام رالېږلی و چې د يو استازي له خوا يې ولوستل سو.

د غونډې لوی هدف دا و چې څنګه په ټولنه کې د ناوړو رواجونو مخنيوی وسي او خلکو ته د دې بدو رواجونو په اړه پوهاوی ورکړل سي او تر څنګ يې د شل کلن اشغال د دوران د جهادي آثارو د ساتنې په اړه ويناګانې وسوې، چې د جهادي آثارو د عمومي رياست د دوو رئيسانو هم د دې رياست نوی توشيح سوی قانون ولوستی او هم يې د دې ستر خدمت د ارزښت په اړه وينا وکړه.

غونډې ته د کندهار ولايت د فرهنګي مبارزينو، شاعرانو او ليکوالانو، خبريالانو، ځوانانو او قومي مخورو را بللو نوره هم ښکلا ور کړې وه.

دا غونډه چې د کندهار د اطلاعاتو او فرهنګ رياست په کوربه توب، د کندهار پوهنتون په انګړ کې د دې پوهنتون په همکارۍ ترسره سوه، له معنويت او ارزښت له مخې، ځکه بې جوړې ښکارېده چې موضوع يې ډېره ګټوره وه (د ناوړه رواجونو د مخنيوي فرمان د تطبيق او د شل کلن غربي اشغال په وړاندې د جهاد د کارنامو او آثارو ساتنه وه.)

د کابل څخه راغلو مېلمنو، د اطلاعات او فرهنګ وزارت نشراتي معين مولوي حيات الله مهاجر فراهي، د جهادي آثارو د ثبت رياست رئيس قاري عبدالستار سعيد، په همدې عمومي رياست کې د کتابتون او چاپي خپرونو رئيس مولوي نور احمد سعيد، د جهادي مدرسو عمومي رئيس شيخ عبدالواحد طارق، د کندهار د بهرنيو چارو رئيس شيخ مولوي فيض الحق، د کندهار د حج او اوقاف رئيس شيخ مولوي عبدالبصير فائز او د کندهار د اطلاعاتو او فرهنګ رئيس مفتي انعام الله سمنګاني وينا وي وکړې.

ټولي ويناوي د اسلامي نظام د ستر نعمت پر شکر ويلو، په ټولنه کې د ناسمو رواجونو د مخنيوي، په عموم کې د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله د فرمانونو پر ارزښت او ولس ته د دې فرمانونو په اړه د عامه پوهاوي او ښه تطبيق پر محور راڅرخېدلې.

په همدې پلمه د کندهار پوهنتون له لوري د اميرالمؤمنين حفظه الله د فرمانونو، په ځانګړې ډول د ناوړه رواجونو د مخنيوي او د امر بالمعروف او نهی عن المنکر د قانون په اړه د دوی هڅې او لاسته راوړني در سره شريکوم.

دا لاسته راوړني او خدمتونه محصلانو او اداري کارمندانو ته د تدريس، علمي او تحقيقاتي، د سياليو، سېمينارونو، د راډيوګانو او ټولنيزو رسنيو له لاري د دې فرمانونو د تطبيق او عامه پوهاوي په برخو کې ترسره سوي دي:

۱ – محصلانو او اداري کارمندانو ته د تدريس په توګه:

۱ – د ناوړه رواجونو د مخنيوي د فرمان هره ماده او د مادې هره فقره يې په ښه وضاحت او تشريح سره د شرعياتو پوهنځي د استادانو او د دعوت او ارشاد آمريت د مبلغينو له خوا وخت پر وخت د بېلابېلو پوهنځيو محصلانو ته تدريس سوي دي.

۲ – د شرعياتو پوهنځي د اسلامي ثقافت هغه استادان چې امامتونه لري، ځينو يې د جمعې په خطابت او بيان کې د ناوړه رواجونو فرمان هره ماده باندې په بېلابېلو جمعو کې يې بيان او تشريح کړي دي.

۳ – د شرعياتو پوهنځي د فقه او قانون څانګي محصلينو ته ۱۷ مه ګڼه فرمان تدريس سوی او د فقهي تحقيق په موخه، په دې فرمان کې کورني کارونه ورکول سوي او همدارنګه د درېيم صنف د فقه الجنايات مضمون په څنګ کې، د محکمو له پاره د جزايي اصول نامې فرمان هم تدريسېږي.

۴ – د امر بالمعروف او نهی عن المنکر قانون د شرعياتو پوهنځي د اسلامي ثقافت د استادانو له لوري د خپلو درسونو په څنګ کې يوه – يوه ماده محصلانو ته تدريس کړې ده، تر دې اندازې چې د سمستر په نهايي آزموينه کې يې د دې قانون په اړه دوه او درې سوالونه هم محصلانو ته راوړل سوي، ترڅو دا قانون په ښه ډول زده کړي.

۲ – په علمي او تحقيقاتي برخه کې:

۱ – د ۱۷ مې ګڼې فرمان او نورو مختلف فرمانونو په اړه د شرعياتو پوهنځي استادانو علمي مقالې او څېړنې ترسره کړي چې د اميرالمؤمنين حفظه الله د فرمانونو په اړه دوردګ پوهنتون ملي کنفرانس ته يې لسونه مقالې ليکلي دي.

۲ – د ذکر سوي فرمان په اړه د شرعياتو پوهنځي، د اسلامي ثقافت يوه استاد ۲۴۵ صفحې کتاب ليکلی دی.

۳ – د راډيوګانو او ټولنيزو رسنيو برخه:

۱ – د دې فرمان اړوند، د کندهار پوهنتون له رئيس شيخ مولوي عبدالرحمن طيبي سره ځانګړې تفصيلي مرکه سوې چې بيا د پوهنتون ږغ او د کندهار شريعت ږغ ملي راډيو له لاري خپره سوې ده.

۲ – د ناوړه رواجونو د مخنيوي فرمان هره ماده او د مادې هره فقره د شرعياتو پوهنځي له استادانو سره مرکې سوي او بيا دا مرکې د پوهنتون ږغ راډيو او د پوهنتون د ټولنيزو شبکو پر پاڼو په ږغيزه ښه خپرې سوي او هم د صفحو ډيزاين په ډول نشر سوي دي.

۳ – د ۱۷ ګڼه فرمان د تدريس او مرکو راپورونه او ږغيزې مرکې د کندهار شريعت ږغ راډيو ته هم لېږل سوي او هلته نشر سوي دي.

۴ – د دې فرمان هر بند، د پوهنتون په بېلابېلو پوهنځيو کې په چاپي ډول په ښه ډيزاين ليکل سوي او نصب سوي، ترڅو محصلان ورڅخه ګټه پورته کړي.

۴ – د سياليو او سېمينارونو برخه:

۱ – د حقوقو او سياسي علومو په پوهنځي کې د امر بالمعروف او نهی عن المنکر د قانون په اړه د دې پوهنځي د ټولو محصلانو ترمنځ، سيالي ترسره سوې، چې ټول قانون يې په ياد کړی، په معنی او تشريح يې هم زده کړی، چې بيا د پوهنځي په سطحه، لس کسان او بيا په لسو کسانو کې اول، دوهم او درېيم مقام ګټونکي اعلان سوي، جائزې او تحفې ورکړل سوي دي.

۲ – د شرعياتو پوهنځي د ځينو استادانو له خوا د اميرالمؤمنين حفظه الله د فرمانونو د ارزښت او اهميت په اړه سېمينار وړاندی سوی دی.

۳ – د دعوت او ارشاد آمريت د مبلغينو له لوري هم د دې فرمان په اړه محصلانو ته بيانونه سوي دي.

۴ – همدا راز د ياد پوهنتون د شرعياتو پوهنځي فرهنګي کمېټه په ۱۴۰۵ اکاډميک کال کې د ټول پوهنتون په سطحه، د محصلانو ترمنځ، د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله د دوو فرمانونو (د ناوړو رواجونو د مخنيوي او د محکمو له پاره جزايي اصول نامې) په اړه سيالۍ په نيت کې لري چې په کلني عملياتي پلان کې يې ور ته ځای ور کړی او د لوی رب جل جلاله په توفيق سره به ترسره کېږي،

ان شاءالله!

د اميرالمؤمنين حفظه الله د فرمانونو په اړه د کندهار پوهنتون لاسته راوړني ځکه يادې سوې چې د نن باارزښته غونډه په همدې پوهنتون کې وه او اړوندو مسئولينو ته په دې برخه کې د پوهنتون د رهبرۍ په تشويق او د استادانو په محنت دا لاسته راوړني د ډاډ او په خپله برخه کې تر يوې اندازې د مسئوليت دا دا کولو اطمينان ورکړي.

په ټوله کې دا ولسي غونډه د يو لوړ هدف له پاره د پوهنتون په علمي کور کې د شيوخ کرامو او مسئولينو په ويناوو، له ډېرو اميدونو سره د کندهار پوهنتون د رئيس په دعائيه پای ته ورسېده.

د ستر زعيم حفظه الله د فرمانونو د عملي تطبيق او د ناسمو رواجونو څخه د پاکې ټولنې په هيله!

انډيوالي څنګه وکړو؟

نعمت الله "شاکر"

اکثره افغانان بالخصوص د جنوب لوېديځ زون اوسېدونکي، په خپل ژوند کې ملګرتيا ته ډېر وخت ورکوي، چې اکثره وخت يې نتايج منفي وي.

دا ښه صفت دی، چې انسان اجتماعي فکر ولري، ښه ملګري او انډيوالان ولري، خو د ژوند کولو اصلي مقصد يې و نه ګڼي، بلکې خپل وخت، امکانات او منابع د اصلي مقصدونو د حصول او ساتلو له پاره مصرف کړي او په ضمن کې ملګرو او ملګرتيا ته هم پام وکړي او داسې اړيکې سره وساتي، چې يو پر بل بوج نه سي او يو د بل د کارونو خنډ نه سي.

شناخت او ملګرتيا توپير سره لري، ممکن يو کس تر سل زيات شناخته ولري، خو ملګري به يې ممکن څلور کسان وي.

شناخت چې هر څه زيات وي؛ ښه وي، خو ملګرتيا بايد محدوده وي.

له بده مرغه اکثره ځوانان د ملګرو لرلو شوق دونه اخيستي وي، چې زيات وخت او امکانات له هغو سره مصرفوي، ورځ تر بلې يې توقعات سره زياتېږي او آخر سره ماړه او بېل سي.

دوهمه خبره داده، چې ځيني خلک تر حساب تېر ملګري غواړي او هڅه کوي زيات ملګري ولري، خو تر څه وخت تېرېدو وروسته يې اړيکې او پالل، تر وس او توان تېرېږي، حتی کله – کله يو پر بل بهتانونه او تهمتونه وايي، يا حد اقل يو د بل رازونه افشا کوي.

د ملګرتيا له پاره معيارونه ټاکل، د انسان هوښياري ده او د ملګرو له پاره شمېر ټاکل هم عاقلانه اقدام دی، چې له بده مرغه اکثره خلک په دغو دواړو کارونو کې تر ډېره حده پاته راغلي دي.

ښه خبره داده، چې د ملګرتيا له پاره پر معيارونو فکر وکړي، مثلاً ديني او عصري علم ولري، ښه موټر او مېلمستون ولري، نسبتًا سخي مزاجه او دکورنيو محدوديتونو څخه خپلواک وي، ښه شهرت او کاروبار ولري.....، نو شخص بايد دا فکر هم وکړي، چې آيا په ده کې داسې صفتونه سته، چې د هغو معيارونو لرونکي خلک ملګرتيا ور سره وکړي.

دوهمه نکته داده، ملګري بايد محدود وي، تر څو اړيکې او پالل يې ممکن وي.

يادونه: ملګرتيا محدوده کړئ او شناخت زيات کړئ!

شعري برخه

د طلوع رنګينې وړانګې

د هيلو قافلې

احمد "خاطِري"

د ژوند پر لاره ماتې آئينې ريچې ريچې
تېرېږي پرې د هيلو قافلې ريچې ريچې

سوونو کاله وړاندې وو شکېدلی دا آمېل
خو نن يې ټولومه بيا دانې ريچې ريچې

قدم که دې را واخيست د جانان وطن پر لور
پر پوله به در ماتې کړمه پښې ريچې ريچې

ساده وه، کم لګښته افغاني ټکنالوجي
کړه پورته په هوا به يې ذرې ريچې ريچې

پر خولو باندې مسکا د دې نظام او امن شکر
خو زړونه بيا په تا باندې غزې ريچې ريچې

دا لويه نېکمرغي دي په قسمت سه "خاطري!"
وجود د رب حضور ته چې ور وړې ريچې ريچې

انتقام

احمد "بريالی"

عفوه نسته په عرب او په عجم کې
انتقام دي پښې خرلي په عالم کې

لاره سخته د کسات خلک وهي چې
توان يې پاته وي پياوړی په قدم کې

د ژوند خونه له ژړاوو خلاصه نه ده
لا قتلونه دي روان کور د آدم کې

د خواهش جذبه کړي وېښه د سړيو
ګرمي څومره ده تخته تن د غنم کې

قسمونه ماتوي په ورځ کې لس نو
دومره زور دا اضطراب وي په قسم کې

زړونه خوړ وي له حسده خلک ژاړي
د دې زخم علاج نسته په مرهم کې

سل علته په يو دم کړي معزول چې
ماليدلی کافر توان زر و درهم کې

رنځور ليک د "بريالي احمد" خوندي کړی
رنګه اوښکه يې سوه وچه په قلم کې

غزل

علي محمد "احسان"

تا ټومبلی چې د زلفو ګلاب نه و
زړه مې ښه و پر راغلی عذاب نه و

سپين سهار هم لخ تيارې سره تشبه و
بشريته چې راغلی جناب نه و

کلی نه و، هديره وه ژوند پيکه و
په ګډر کې شرنګېدلی رباب نه و

ټول نړۍ يې و ښايسته پر ملا خم وه
پر وطن چې د جنګ و انقلاب نه و

جوماتونه مکتبونه سوځېدله
کورنۍ جګړو کې ځکه ثواب نه و

دغه زه چې پلار و چا ته کښېنولې
خوښ مې نه وا و زما انتخاب نه و

غم ځپلی يم "احسانه!" ژوند هغه و
چې پر مخ به مې د اوښکو سيلاب نه و

Tolo-E-Afghan Journal

طلوع افغان مدیریت له ټاکلي لیکنیز معیار سره سم، د لیکنو په اصلاح کي د لاسوهني حق لري.

ګرانو لوستونکو! په ډېر احترام هیله کېږي، چي دا سپېڅلي پاڼي بې ځایه و نه غورځوئ!

د ګډون کوونکو له پاره خبرتیا!

د طلوع افغان تاریخي خپرونه چي د هیواد په مطبوعاتي تاریخ کي ځانګړی ځای لري. که غواړئ چي د لمریز کال په آخرکي د طلوع افغان تاریخي ورځپاڼي یو بشپړ کلکسیون ولرئ، په طلوع افغان ورځپاڼه کي ګډون وکړئ.

د ګډون کلنی بیه ۵۰۰- پنځه سوه افغانۍ، زده کوونکو او محصلینو ته د تصدیق په وړاندي کولو سره نیمه بیه ټاکل سوې ده. اداره

مسـئول مـدیر: ـــــ بریالـی "فیـضي"

د تصحیح مسئـول: ـــــ حاجي عبدالله "ذاکري"

کمپوز او ډیـزاین: ـــــ نصیر احمد "صـابر"

د مـدیریت شمېره: ـــــ ۰۷۰۵۶۰۸۶۷۳

د توزیع مدیریت شمېره: ـــــ ۰۷۰۰۴۹۱۴۳۶

پتـه: ـــــ علامه حبیبي واټ –اطلاعات او فرهنګ ریاست

د برېښنالیک پته: ـــــ baryafaiz981@gmail.com

Founded in 1921 ISSue: 6 Established in 1300 Hijri

اعلانونه او خبرتیاوي

قرارداد کوي

د کندهار ولایت د عامي روغتیا ریاست په نظر کي لري چي د ۱۴۰۵ ل کال له پاره لاندي دوه قلمونه یو کلن قرارداد تر سره کړي، چي (۸۹) قلمه لابراتواري مواد او طبعي تجهیزاتو قرارداد وکړي او هم اړوند ریاست د ناروغانو، نوکرېوالانو د غذا پخولو له پاره ۶۰ زره کېلو مایع ګاز چي مشخصات یې په شرطپاڼه کي ذکر سوي دي. هغه شرکتونه چي د تدارکاتو پر قانون برابر وي او قانوني مشکل و نه لري، خپل غوښتنلکیونه دي د عامي روغتیا ریاست مقام ته چي د رئیس عطاجان د جامع پر مخامخ موقعیت لري، د یوویشتو کاري ورځو په موده کي خپل غوښتنلیکونه وړاندي کړي. د اعلان د نشر شرطپاڼه د کندهار ولایت مقام څخه هم ترلاسه کولای سي او هم د آفر د خلاصولو او د داوطلبۍ نېټه، د روان ۱۴۰۵ ل کال د غویي میاشتي ۲۷ نېټې د یکشنبې ورځي سره سمون خوري، د سهار پر لس بجې، د کندهار ولایت د غونډو په تالار کي تر سره کېږي.

د لازیاتو معلوماتو له پاره دي پر ذکر سوي شمېره اړیکه ونیسي: 0700309801

دورکي اعلانونه

یوه قطعه برېښنایي تذکره چي د عبدالقدوس محمدي د مقصود زوی او د محمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونیسي: 0706815654

❋●❋

یوه قطعه برېښنایي تذکره چي د احسان الله د عبدالله د زوی او د محمد نذیر د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونیسي: 0701769941

❋●❋

یوه قطعه برېښنایي تذکره چي د جاوید احمد جهان د نیک محمد د زوی او د آقا محمد د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونیسي: 0700979098

❋●❋

یوه قطعه برېښنایي تذکره چي د محمد علي د عبدالجبار د زوی او د عبدالحمید د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونیسي: 0707007973

❋●❋

یوه قطعه برېښنایي تذکره چي د صابر احمد د نذیر احمد د زوی او د علاءالدین د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونیسي: 0703774950

❋●❋

یوه قطعه برېښنایي تذکره چي د زبیر د محمد نادر د زوی او د ظفر خان د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، له دې شمېرې سره دي تماس ونیسي: 0707244649

❋●❋

یوه قطعه برېښنایي تذکره چي د محمد د جمعه خان د زوی او د عبدالخالق د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونیسي: 0705261230

❋●❋

یوه قطعه برېښنایي تذکره چي د محمد "رحماني" احمدضیاء "رحماني" د عبدالوهاب "رحماني" د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونیسي: 0704029594

اعتبار نه لري

نقیب الله نور شرکت چي د (34854) شمېرې جواز درلودونکی چي رئیس نقیب الله نوري د حاجي خالق داد زوی او مرستیال فضل الرحمن خدای داد د خدای داد زوی دی. ورک سوی، د اعلان تر نشر وروسته اعتبار نه لري.

❋●❋

یوه قطعه برېښنایي تذکره چي د زهرا بارکزۍ د طوطي د لور او د عطاءالله د لمسۍ په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، پر دې شمېره دي تماس ونیسي: 0707266567

❋●❋

یوه قطعه برېښنایي تذکره چي د محمد کبیر حسن د محمد حسن د زوی او د عبدالرحمن د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونیسي: 0706216391

❋●❋

یوه قطعه برېښنایي تذکره چي د نعمت الله رحماني د حاجي پای محمد د زوی او د عبدالغفور د لمسي په نامه ده، ورکه سوې ده، هر چا که پیداکړې وي، په دې ذکر سوې شمېره دي تماس ونیسي: 0705100146

(۱) مخ پاته: د اطلاعات او فرهنګ وزیر د ټاپي...

او د هیواد په اقتصادي وده کي مهم رول ولوبوي.

د هغه په قول، د دې ډول لویو پروژو عملي کېدل، د اقتصادي ثبات د ټینګښت، د کاري فرصتونو د رامنځته کېدو او د سیمې هیوادونو ترمنځ د باور د زیاتېدو لامل ګرځي.

د یادوني وړ ده، چي ټاپي پروژه یوه لویه سیمه ییزه پروژه ده، چي افغانستان د انرژۍ له مهم دهلېز سره نښلوي او تمه ده د هیواد په راتلونکي اقتصادي پرمختګ کي حیاتي رول ولوبوي.

(۱) مخ پاته: د مخکني خبرداری سیستم...

وسپارل.

یاد سیستم له بېلابېلو تخنیکي اجزاوو څخه جوړ دی او په څو برخو کي فعالیت تر سره کوي:

۱– کله چي سېلابي مانده راسي او خلک بیده یا له خطره ناخبره وي، سیستم زنګ وهي او کلیوال له احتمالي خطره خبروي.

۲– دغه سیستم د نصب سوي ساحې د اوبو اندازه او د اوبو سرعت معلوموي، چي د خطر د کچې په آرزونه کي مهم رول لري.

همدارنګه د یاد سیستم د اغېزمني کاروني له پاره پنځه تنه رضاکاران روزل سوي، څو د سیستم د زنګ وهلو پر مهال، د لا ښه خبرتیا له پاره نور کلیوال هم خبر کړي.

سربېره پر دې د سیستم د دوامداره فعالیت، د یقیني کولو په موخه د اړینو تخنیکي اجزاوو اضافي پرزې هم برابري سوي، تر څو د کومي احتمالي تخنیکي ستونزې په صورت کي ژر تر ژره بدیل وکارول سي.

د یادوني وړ ده، چي د دې سیستم په نصب سره نارینه، ښځي، سپین ږیري او ماشومان د سېلابونو له احتمالي خطرونو خوندي کېږي او د ټولني د خوندیتوب کچه لوړېږي.

(۱) مخ پاته: د افغاني غالیو د صادراتو ارزښت...

زره کسانو ته به کاري زمینه برابره سي.

د ده په خبره، هڅه کوي چي ننداریتونونه زیات کړي، تر څو کورني تولیدات نړیوالو بازارونو ته ښه معرفي او د افغان غالیو له پاره نوي پېرېدونکي پیدا سي.

رحمان قل د اسلامي امارت څخه غوښتي، چي په هر ولایت کي دي د غالیو اوبدلو له پاره ځانګړي صنعتي پارکونه جوړ کړي، څو دغه لرغوني صنعت منظم او پراخ سي.

په ورته وخت کي یو شمېر اړوندو کارکوونکو د خپلو ستونزو د حل، د بازار موندني او د مهارتونو لوړوني له پاره د حکومتي ملاتړ غوښتنه کړې ده.

(۱) مخ پاته: یو ذخیروي ګدام جوړ او ګټي اخیستني...

ده. د دې پروژې په بشپړېدو سره به د وچو مېوو بازار لا منظم سي او سوداګرو ته به د خپلو محصولاتو د ساتني او پېر او پلور په برخه کي لا ډېري اسانتیاوي برابري سي.

د ترینکوټ ښاروال الحاج ملا محمد اسماعیل دفاعي ویلي، د دغه ګدام جوړېدل، د ښار د اقتصادي پرمختګ له پاره یو مهم ګام دی او هڅه کوي چي په راتلونکي کي هم ورته نوري بنسټیزي پروژې پلي کړي، څو د سوداګرۍ او پانګوني زمینه نوره هم پراخه سي او خلکو ته کاري فرصتونه برابر سي.

یو شمېر سوداګرو د دې پروژې له عملي کېدو خوښي څرګنده کړې او ویلي یې دي، دا ډول پروژې د دوی له پاره ډېري ګټوري دي او له مسئولینو یې وغوښتل چي ورته نوري پروژې هم پلي کړي، تر څو وکولای سي، خپل زراعتي محصولات، نړیوالو بازارونو ته وړاندي کړي.

د یادوني وړ ده چي ترینکوټ ښاروالۍ په دې وروستیو کي د ښار د اقتصادي پیاوړتیا او ښاري خدمتونو د ښه والي له پاره یو شمېر پراختیایي پروژې پلي کړي دي. تر دې وړاندي هم په همدې منډۍ کي د وچو مېوو او سبزیجاتو د ساتني له پاره د څه باندي پنځو میلیونو افغانیو په ارزښت، د دوو سړو خونو پروژه بشپړه او ګټي اخیستني ته سپارل سوې وه.

(۱) مخ پاته: څه باندي ۱۱۰۰ بېوزلو کورنیو...

هري کورنۍ ته ۲۹۰۰ افغانۍ نغدي مرسته ورکړه.

د هغه په خبره، دا مرسته په دوره یي ډول دوام لري، تر څو په زیان منونکو کورنیو اقتصادي فشارونه کم او له معیشت ستونزو سره د مقابلې له پاره د دوی وړتیا پیاوړې کړي.

ورته مهال د یادو ولسوالیو اوسېدونکو د اسلامي امارت څخه د خوښۍ څرګندولو په ترڅ کي د نورو اقشارو له پاره د لازیاتو مرستو غوښتنه وکړه.

د کلو، د بیارغوني او پراختیا ریاست سرپرست په خبره، هڅي رواني دي چي د ټولو ولسوالیو له پاره نوري پراختیایي او بشري پروژې راجلب سي، تر څو د ولایت په نورو ولسوالیو کي اړمنو کورنیو ته پراخه مرسته چمتو سي.

قرارداد کوي

د افغانستان د کرهنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون (اناستو) ریاست غواړي چي د ۱۴۰۵ مالي کال له پاره د دوه قلمه روغنیاتو (ډیزل او پطرول) قرارداد عقد کړي.

ټول هغه شرکتونه چي پر شرایطو برابر وي، کولای سي چي خپل غوښتنلیکونه د ۱۴۰۵/۱/۳۱ ل کال نېټې څخه بیا د همدې کال د غویي میاشتي تر ۲۳ نېټې پوري د (۲۱) ورځو له پاره د یاد پوهنتون د تهیه او تدارکاتو آمریت او ولایت مقام مالي او اداري چارو ریاست ته وسپاري، تر څو شرطپاڼه او آفر ترلاسه کړي.

د آفر پرانیستلو غونډه، د ۱۴۰۵ ل کال د غویي میاشتي پر ۲۴ نېټه، د دوشنبې په ورځ، د سهار پر لس بجې، د تعین سوي کمېټې په حضور کي، د ولایت مقام په مالي او اداري ریاست کي تر سره کېږي.

پته: ولایت مقام.

پته: اناستو پوهنتون، د قول اردو شاته. د تماس شمېره: 0705303519

ټولنیزي رسنۍ

رحمت الله "نوروز":

هغه عادتونه چي ستاسو په ژوند کي برکت راولي!

۱– د سهار لمونځ پر وخت ادا کول:

دا یو عادت، ستاسو ټوله ورځ برکتي او روښانه کوي.

۲– د هر کار په پیل کي (بسم الله) ویل:

برکت هغه وخت پیلېږي کله چي تاسو کار د الله جل جلاله په نامه سره شروع کړی.

۳– لږ صدقه ورکول، که څه هم یوازې یوه کمه اندازه وي:

څه چي تاسو صدقه ورکوی، الله تعالی یې څو برابره درکوي.

۴– هره ورځ د قرآن لوستل، که څه هم یو آیت وي:

دا ستا زړه ساتي او ستاسو کور د نور څخه ډکوي.

۵– د سته نعمتونو له پاره (الحمدلله) ویل:

په دې سره ستاسو ژوند ته نور برکتونه راځي.

۶– په سجده کي دعا کول:

همدا هغه وخت دی چي تاسو الله پاک ته تر ټولو نږدې یاست او ستاسو دعاګاني ژر قبلېدلای سي.

۸– پر الله جل جلاله باور کول، کله چي پلانونه دي سم نه سي:

برکت په دې کي دی چي ومنې، د رب تعالی پلان تل تر ټولو غوره دی.

۹– پر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم درود (صلوات) ویل:

دا ستاسو ژوند ته سکون راولي او ستاسو د دعاوو منزل لنډوي.

۱۰– برکت په دې کي نه دی چي څه لري، بلکي په دې کي دی چي الله تعالی په کښې برکت واچوي.

نن د همدې عادتونو څخه پیل وکړه او نیکمرغه ژوند تجربه کړه!

Saadullah Fitrat:

په ژوند کي مې دوه ډول خلک پرېشانه ولیدل:

۱– مخلص

۲– وفادار

منافقین بیا په هر ځای کي ښه په مزو کي وو.

(ژباړه)

پوهنمل ډاکټر فضل حلیم عرب زی:

په قسمت نه، بلکي په سخت کار باور ولره!